AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدسمیع صادق ۲۰۲۶/۰۸/۱۸

# د کرکټر بغاوت

## (لنډه قصه)

ليکوال غوښتل يو سړی ووژني.
شپه ناوخته، کوټه چوپه، او د کمپيوټر سپينه رڼا ئي پر مخ لګېده. لس سره ګوتي ئي پر کيبورډ پرتي وې، او و ئي ليکل:
«توپک ئي پورته کړ...»
لا ئي جمله نه وه پوره کړي چي لاندي په خپله يوه نوې کرښه راښکاره سوه:
«نه!»
ليکوال لاسونه له کيبورډه پورته کړل. شاوخوا ئي وکتل. په کوټه کي بل څوک نه وو.
وې ليکل:
- دا چا وليکل؟
جواب راغی:
- ما.
ليکوال تندی تريو کړ.
- ته څوک يې؟
- هماغه سړی چي ته ئي د قاتل جوړولو په نيت يې.
ليکوال لږ شاته سو.
- ته يو کرکټر يې.
- او ته يو ليکوال. ته په خپل رول کي بند ئي، ما هم بندوې.
ليکوال ساه واخيسته.
- کيسه تراژيدي غواړي.
- که شايد ته تراژيدي غواړې؟
د ليکوال ګوتي ودرېدې.
- له درده پرته کيسه ژوروالی نه لري.
کرکټر وليکل:
- نو چي هر ځل د ژوروالي په لټه کي سې، ولي قبرونه کيندې؟
کوټه نوره چوپه سوه.
ليکوال پردې ته کتل، خو څه ئي نه سوای ليکلای.
کرکټر بيا وويل:
- زما ښځه دي ووژله. زوی دي را يتيم کړ. کور دي را وران کړ. اوس غواړې توپک په لاس کي راکړې او قاتل مي هم کړې.
- دا د کيسي پلاټ دئ.
- نه. دا ستا پرېکړه ده چي د پلاټ نوم دي پر ايښی دئ.
ليکوال په چوکۍ کي يوه شېبه نېغ کښېناست. بيا ئي وليکل:
- کيسي بايد واقعي وي.
- واقعي؟


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

کرکټر وخندل.
- په نورو هېوادونو کي خلک هر سهار په دي هيله له خوبه راپاڅېږي چي نن به تر پرون ښه کړي. ځوک د مينې په تمه وي، څوک د رقص، څوک د خپل راتلونکي بچي د خندا... خو زموږ د ليکوالو په کيسو کي ولي غم تر اميد ډېر واقعي ښکاري؟
ليکوال جواب نه درلود، د ساعت ټک ټک ئې په کوټه کي اورېدی.
څه شېبه وروسته ئې وليکل:
- نو ته څه غواړې؟ زه د نورو هېوادونو خلک په دي هېواد کي انځور کړم؟
- نه، زموږ خلکو ته ښه پای ورکوه!
- د دې ځای ژوند ښه پای لري کله، بيل لا ښه نه لري.
کرکټر جواب ورکړ:
- رشتيا وايې. خو ژوند هر وخت ليکوال هم نه لري چي بد پای ورته وټاکي.
د ليکوال پر شونډو موسکا تېره سوه.
د لومړي ځل لپاره ئې د خپل قلم تر شا پټ غرور محسوس کړ، هغه غرور چي ده به د خلکو لپاره ژوند جوړاوه، چي زړه به ئې وو مينه به ئې ورکوله، چي طبيعت بې ناسازه وو ترې وا بې خيسته، څوک به ئې يتيم کړ، څوک به ئې قاتل، او دې ټولو ته به ئې د کيسي اړتيا ويله.
ورو ئې وليکل:
- نو راته ووايه، پر دې خلکو ښه کيسه څنګه وليکم؟
کرکټر لږ غلی سو.
بيا ئې وليکل:
- تياري ئې مه نقلوه!
- ولي؟
- د دې دپاره چي هغوی ئې هېروي، ته ئې ور په يادوې...
ليکوال تر ډېره وخته همدې يوې جملې ته کتل.
بيا ئې سترګي پورته کړې. د کړکۍ له شا اوس نو سهار معلومېدی. شپه ورو له کوټې پر وتو وه.
بېرته ئې د کمپيوټر پردې ته وکتل:
«توپک ئې پورته کړ...»
کرسر د جملې په پای کي رپېدی.
ليکوال ورو ورو د شا تڼۍ کښېکښله.
يو توری ورک سو.
بيا بل. بل. بيا بل.
تر دې چي جمله ټوله پاکه سوه.
سپينه پاڼه پاته سوه.
کرکټر وليکل:
- مننه!
ليکوال وپوښتل:
- څه دپاره؟
- د دې دپاره چي درپه ياد سوه، ليکوال خدای نه دئ.
ليکوال موسکی سو.
- نو ليکوال څه دئ؟
څو شېبې هېڅ ونه ليکل سول.
بيا پر سپينه پاڼه يوه وروستۍ جمله راښکاره سوه:
- شاهد.
ليکوال لاسونه له کيبورډه ليري کړل.
له هغې ورځې وروسته ئې د خپلو کرکټرونو برخليکونه نه ټاکل.
فقط بې غوږ ورته نيوی.
او هغوی...بالاخره په خپلو کيسو کي په خپله خبرې کولې.

محمدسميع صادق


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ